# مسیر

ورځپانه

نوې لید، نوې مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۴۰۰ د غبرگولي نهمه | د ۲۰۲۱ د مې ۳۰مه | ۷۲۳مه گڼه


پوهنتون


۴ مخ

## افغانستان د لوړو زده کړو موسسه

افغانستان د لوړو زده کړو موسسه ټول ۶۰ استادان لري، چې ډېری يې د ماستری ترې کچې لوړې زده کړې لري، چې يوه برخه يې ښځينه استاداني تشکيلوي.




## کرنې وزارت: په هېواد کې د شړشمو د تېلو کلني توليدات يو زر او ۲۹۸ ټنو ته رسېدلي



د کرنې وزارت چارواکي وايي چې د تېرکال په ترڅ کې د هېواد د شړشمو له کروندو څخه يو زر او ۲۹۸ ټنه غوړي تر لاسه شوي دي. د ياد وزارت د چارواکو په خبره، د دوی شمېرې ښيي چې تېرکال د هېواد په کچه په يو زر او ۴۵۷ هکتاره ځمکه شړشم کرل شوي وي چې ياده اندازه غوړي ترې ترلاسه شوي دي. د سرچينې په وينا، د شړشمو ډېرى کروندې، د سمنگان، تخار، بدخشان، بغلان، کاپيسا او غزنې په ولايتونو کې شوې چې د دغو ولايتونو د کروندگرو په اقتصادي وضعيت کې د پام وړ ښه والی راغلی دی. د کرنې وزارت چارواکي وايي، دوی هڅه کوي چې د شړشمو کروندو بهير د هېواد نورو ولايتونو ته هم وغځوي.

د يادونې ده چې د شړشمو غوړي يا تېل گڼې روغتيايي گټې لري او دغه راز د درمل په توگه د استفادې ترڅنگ په پخلي کې هم کارول کېږي.

# د کرونا د خطر زنگ؛

## روغتيا وزارت په ۱۶ ولايتونو کې د کرونا له کبله د ښوونيزو مرکزونو د تړل کېدو اعلان وکړ



د تعليمي او تحصيلي بنسټونو بندول د کرونا له مخنيوي سره مرسته کوي؟

۲ مخ

د تاريخ تکرار؛ انديښنې شته خو وارخطايي نشته

۲ مخ

د پاکستان اټومي پروگرام کله پيل شو؟

۳ مخ

## جو بايډن: القاعده او داعش له دې وروسته افغانستان ته جدي گواښ نه دی

د امريکا ولسمشر جو بايډن په خپلو تازه څرگندونو کې ويلي، چې له افغانستان څخه د امريکايي سرتېرو تر وتلو وروسته هم په دغه هېواد کې د القاعده او نورو ترهگرو ډلو فعاليتونه څاري.

بايډن د امريکا په ويرجينيا ايالت کې يوې غونډې ته ويلي چې د سرتېرو تر وتلو وروسته به افغانستان ته د القاعده ډلې له لوري جدي گواښ پېښ نه شي. نوموړي دغه راز ټينگار کړی، چې د القاعدې يا داعش د بريدونو تر ټولو لوی گواښ او احتمال تر دې وروسته له افغانستان څخه نه دی.

خو بايډن د ځای له مشخصولو پرته ويلي، چې دا گواښ هغو پنځو سيمو ته متوجه دی، چې د داعش په گډون د القاعدې او تنظيمي جوړښتونو لپاره پکې زمينه برابره ده. هغه دغه راز د راتلونکو گواښونو د مخنيوي لپاره د تجهيزاتو د چمتو کولو خبره هم کړې ده.

د بايډن دا څرگندونې داسې مهال دي چې د افغان امنيتي ادارو لوړپوړو چارواکو تېره ورځ په کابل کې د يوې خبري غونډې پرمهال وويل چې طالبان لا هم د القاعده په گډون له نورو بهرنيو جنگياليو سره اړيکې پالي. دوی دغه راز وويل چې په دې وروستيو کې د هېواد په گوټ گوټ کې د جگړو له کبله د القاعده شبکې د غړو په گډون گڼ بهرني جنگيالي وژل شوي هم دي.

## له ترهگرۍ د پاکستان ملاتړ پټ نه دی، بلکې ټوله نړۍ پرې خبره ده



۲ مخ

## وزارت داخله: در انفجار بر موتر حامل استادان و محصلين پوهنتون البيرونی چهار تن کشته شدند



مسئولان وزارت داخله می‌گويند که در پی انفجار ماينی در موتر حامل استادان پوهنتون البيرونی، چهار تن کشته شده‌اند.


طارق آرين، سخنگوی وزارت داخله می‌گويد که يک حلقه ماين در ساحۀ «رباط» حوزۀ هفتم امنيتی شهر چاريکار، مرکز ولايت پروان حين عبور يک موتر کاستر حامل استادان پوهنتون البيرونی ولايت کاپيسا، انفجار کرده است.

سخنگوی وزارت داخله می‌افزايد که در اين روی‌داد ۴ تن کشته شده و ۱۱ تن ديگر زخم برداشته‌اند. به گفتۀ او، کشته‌شده‌گان و زخميان رويداد محصلين و استادان پوهنتون البيرونی می‌باشند. در همين حال، مسئولان امنيتی پروان تأييد می‌کنند که يک موتر کاستر حامل استادان پوهنتون البيرونی حوالی ساعت ۴ عصر ديروز در روستای «رباط» ولسوالی بگرام اين ولايت، آماج انفجار ماين کنار جاده‌يی قرار گرفته است.

عبدالرووف ارزگانی، فرمانده پوليس پروان تلفات اين روی‌داد را چهار زخمی می‌گويد. اما محمدفريد، رانندۀ اين موتر می‌گويد که در موترش حدود ۱۸ تن به‌شمول رئيس، استادان و داکتران شفاخانۀ کادری پوهنتون البيرونی موجود بوده‌اند. به گفتۀ او، ماين در کنار يک درخت جاسازی شده بود.

از سوی هم، عبدالخليل حيدری، سرطبيب شفاخانۀ ۱۰۰ بستر غيرنظامی ولايت پروان می‌گويد که ۳ کشته و ۱۳ زخمی از محل روی‌داد به اين شفاخانه منتقل شده‌اند. رئيس پوهنتون البيرونی هم در ميان زخميان است. هنوز فرد يا گروهی مسئوليت اين روی‌داد را برعهده نگرفته است.


## فروش زمين



يک قطعه زمين به مساحت {9080 متر مربع} واقع قرغه {ناحيه 5 ، کابل -افغانستان} به قيمت مناسب به فروش رسانيده ميشود. ضرورت مندان و اشخاصيکه خواهان خريداری آن باشد به شماره تليفون های ذيل تماس گرفته معلومات اخذ نمايند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

## سرلیکنه

### د تعلیمي او تحصیلي بنسټونو بندول د کرونا له مخنیوي سره مرسته کوي؟

عامې روغتیا وزارت وايي چې د کرونا پېښې په چټکۍ سره ورځ تر بلې زیاتېږي او دا د جدي اندېښنې وړ ده. دې وزارت ویلي چې د کابل په ګډون د هېواد په ۱۶ ولایتونو کې به ټولې دولتي او خصوصي تعلیمي اداري، ښوونځي او پوهنتونونه د دوو اونیو لپاره تړلي وي. لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو هم د روغتیا وزارت یاده پرېکړه تایید کړې او زیاتوي چې تر دویم امر پورې به ټول دولتي او خصوصي تعلیمي بنسټونه تړلي وي.

د عامې روغتیا وزارت دا پرېکړه د خلکو له بېلابېلو غبرګونونو سره مخ شوې، خو ډېری خلک د دې پرېکړې مخالفین دي. په یوه څو دېرش میلیوني هېواد کې د ورځې تر زرو کمې پېښې په هېڅ ډول هغسې جدیت نه ښيي، چې ورسره باید ټول پوهنتونونه او ښوونځي وتړل شي. له بله اړخه خلک په عملي ژوند کې په بېلابېلو پروګرامونو کې را ټولېږي، نه خلک دا پروګرامونه بندوي او نه هم دولت کولی شي چې د دې پروګرامونو مخه ونیسي. کله چې بازارونه پرانیستي وي، ډلې ډلې خلک پکې ګرځي، کله چې خلک عامه ټرانسپورټ کاروي، ماسک او نور تدابیر ونه لري او کله چې خلک په لویو لویو غونډو کې را ټولېږي، نو په داسې وخت کې د پوهنتونونو او ښوونځیو بندول به څه ډول د کرونا له مخنیوي سره مرسته وکړي. خپله د افغانستان خلک کرونا جدي نه ګڼي او رښتیا هم کرونا تر اوسه پورې افغانستان کې کوم ستر ناورین نه دی رامنځ ته کړی، نو ځکه سخته ده چې حکومت دې خلک اړ کړي چې لازم تدابیر ونیسي. په داسې وخت کې بیا د تعلیمي او تحصیلي بنسټونو تړل نه یوازې ګټه نه کوي، بلکې خلکو ته لوی زیان هم اوړي.

په وروستیو کې په تحصیلي بنسټونو کې خلک واکسین هم شول، خو بیا هم تحصیلي بنسټونه رخصت شول. دا چاره به د تعلیم او تحصیل په برخه کې ډېرې ستونزې پیدا کړي. افغانستان د نورو پیاوړو هېوادونو په شان هم نه دی چې په انلاین ډول تعلیمي او تحصیلي چارې مخ ته یوسي؛ ځکه دلته نه یوازې دا چې خلک سم او با کیفیته انټرنېټ نه لري، بلکې ډېر زده کوونکي او محصلین ان موبایل او کمپیوټر هم نه لري، چې د انلاین زده کړو لپاره ترې ګټه واخلي. له همدې امله تېر تعلیمي کال هم پوره ضایع شو او ډېر کم درس پکې وویل شو او که سږ کال هم داسې پرېکړې کېږي، نو بیا به هم تعلیمي او تحصیلي کال ضایع کېږي. تر اوسه پورې د تعلیمي او تحصیلي ادارو هڅه هم دا وه چې د کرونا پر مهال یوازې محصلین او زده کوونکي له یوه ټولګي بل پورته ټولګي ته ولاړ شي، نه درسونه وو او نه هم هغسې ازموینه چې پر اساس یې د زده کوونکو او محصلینو سمه ارزونه وشي. په دې ډول تعلیمي او تحصیلي سکټور یوه ضربه ولیدله او دا دي اوس بیا له همغې ستونزې سره مخ کېږي.

د کرونا د مخنیوي لپاره باید یا خو په ټولو برخو کې جدي ګامونه واخیستل شي او یا هم باید تعلیمي او تحصیلي بنسټونه پرېښودل شي چې د تدابیرو په مراعاتولو سره خپل فعالیت ته دوام ورکړي. د کرونا د مخنیوي اغېزناکه لاره دا ډول بندیزونه نه دي او نه یې هم په نړۍ کې مثبته پایله لرلې، بلکې نورې اغېزناکې لارې شته چې پکار ده پرې تمرکز وشي.

# د تاریخ تکرار؛

## اندېښنې شته خو وارخطايي نشته

عبدالوحید وحید

د روان سیاسي او امنیتي وضعیت په تړاو د بینن سیوان وروستیو څرګندونو زموږ د ولس اندېښنې راپارولې دي او د خپل هېواد د راتلونکي په اړه اندېښنه کول یقیناً زموږ د ولس د ویښتابه نښه او د خوښۍ خبره ده. زه له هغه وخته راپدېخوا بینن سیوان پېژنم چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو لخوا د استازي په توګه وګمارل شو. هغه مهال مې ورسره د افغانستان د ستونزې د حل په ډېرو ناستو کې ګډون کړی دی. تفصیل ته نه ځم. یوازې دومره غواړم وواېم چې هغه مهال به هم نوموړي کله کله پارونکې څرګندونې کولې. د بېلګې په توګه، نوموړي غالباً په روم کې له پخواني پاچا محمدظاهر شا سره له لیدو وروسته رسنیو ته د خبرو پر مهال ویلي وو، چې افغانستان د ټوټه ټوټه کېدو په غاړه پروت دی. کله چې پاکستان ته راغی، په یوه ناسته کې چې ما یې د ژباړې دنده تر سره کوله د حرکت انقلاب اسلامي نوموتي مشر شهید مولوي نصرالله منصور بینن سیوان ته په خطاب کې وویل: «موږ ستاسو دندې ته په درنه سترګه ګورو او پوهېږو چې ستاسو دنده د افغانستان شخړې ته د حل جامع لاره موندل دي. ګواښونه کول، د افغانانو ذهنیت خرابول او زموږ د هېواد د تجزیه کېدو تبلیغات ستاسو په دندو کې نه راځي.»

بینن سیوان د دغې ژمنې تر ځنګ چې په راتلونکې کې به دغه کار نه تکراروي، داهم وویل چې: پرون له کابل څخه پېښور ته له راتلو یو ساعت وروسته د امنیتي وضعیت د ترینګلتیا له امله د نجیب بهرنیو چارو وزیر عبدالوکیل ورته ټلیفون وکړ، چې په کابل کې وضعیت ښه نه دی. د سلا مشورو لپاره تاسو بېرته کابل ته راوګرځئ. د بینن سیوان په خبره، کله چې نوموړی کابل کې د وطن ګوند په مرکزي کمیټه کې ناسته کې د ګډون لپاره ورغی، نو د ناوړه پېښې د مخنیوي لپاره ځانګړي امنیتي ګامونه اخیستل شوي وو، د معمول په خلاف د امنیت د کوم ځانګړي ریاست کسان بهر ولاړ وو او په ناسته کې د خبرو او الفاظو له کارولو څخه داسې ښکارېده، چې شرایط له معمول څخه ورهاخوا ستونزمن دي.

بینن سیوان په عراق کې د «تیل یوازې د خوراک او ولسي ژوند ژغورلو لپاره» په عنوان د ملګرو ملتونو د مامور په توګه په لوړه کچه فساد کې ښکېل او د محکمې لخوا ککړ وګڼل شو. خبرې یې دومره معیاري هم نه دي چې موږ وارخطا کړي. د نجیب او غني دواړو حکومتونو د قسماً ښکېل او عیني شاهد په توګه د خپلو مطالعاتو او مشاهداتو په رڼا کې په شبهاتونو او توپیرونو باندې لیکنه کوم او نور قضاوت خپل ولس ته پرېږدم.

د وطن په ګوندي جوړښتونو کې اختلافات د ژبني چټل تعصب پر بنسټ اوج ته رسېدلي و او عملاً په رسمي ناستو کې د هېواد د تجزیې او شمال ته د پلازمېنې د انتقال په غوښتنو او مخالفت کې څرګندونې، د مجاهدینو له مختلفو ډلو سره اړیکې نیول کېدې او تر ټولو مهمه دا چې په شمال کې د روسیې تر حمایت او مسکو میشتو کمونستانو په نوښت دوستم دېته وهڅول شو، چې د عمل په ډګر کې لاس پکار شي. په شمال کې د نجیب ګمارنې ونګوي او داسې نور خوځښتونه وکړي چې له حکومت څخه ځان جدا وښيي.

دا هم واقعیت دی چې په اوسني حکومت کې هم اختلافات شته، ولسمشر ډېرې ښې وړتیاوې لري؛ خو د واک مینې پر نفسیاتي رنځ اخته کړی دی. د سولې لپاره رغنده د عمل وړ په عیني حقایقو ولاړ وړاندیز نشي کولای او د سیاسي اجماع هیڅ ډول ځرک نه لګیږي؛ خو بیاهم د حکومت تر منځ د اختلاف کچه ښکته ده. زما په اند، اوسنی وضعیت د وخامت ګراف د نجیب د حکومت کچې ته نه دی رسېدلی. البته د فاریاب ستونزه که څوک تکرار ګڼي، قیاس به یې توپیرونه ولري.

د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته په جینوا کنفرانس کې پاکستان خپلې ژمنې ماتې کړې. مجاهدینو د جګړو کچه لوړه کړه او نجیب هم په لومړي سر د واک پرېښودلو ته په ذهني توګه تیاری نه درلوده. اوس موږ هم په ورته شرایطو کې قرار لرو. د دوحې په تړون کې د حکومت منزوي کول د امریکا لخوا تر ټولو ستره غلطي وه. اوس هم د دوحې د تړون یو لوری پر جګړه زور اچوي او سوله ارګ ته ننوتل ګڼي. حکومتي لوری د فشار پر مهال ځان د دوحې له تړون څخه بهر ګڼي.

توپیرونه هم شته. هغه دا چې د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته نړۍ افغانستان هېر کړ، په دغه هېواد کې د روان ناورین په هکله یې دلچسپي ختمه شوه، شوروي اتحاد مات شو، د شوروي اتحاد په میراث ناسته روسیه په خپلو کورنیو سختو ستونزو کې ډوبه وه او مجاهدین له مختلفو اړخونو څخه تشویق کېدل چې بشپړه بریا یې باید په برخه شي.

اوس لاهم افغانستان د نړیوالو د توجه په محراق کې قرار لري، نړۍ په ټولیزه توګه د افغانستان ستونزه ځان ته بالقوه ګواښ ګڼي. امریکا د نړیوال سیاست د مدیریت په مرکز کې شته، اوس یې خپله تګلاره له غلیم څخه دربیمګړي ته واړوله او له لیوه څخه پسه جوړ شو. چین او روسیه هم د طالبانو لخوا د واک د انحصار فکر د نه منلو ګڼي.

د نجیب د حکومت له نسکورېدو وړاندې مجاهدین لکه اوسني طالبان په خیالي نیلیو باندې سپاره وو، سوله یې د فتحې په شکل تعبیروله، واقعي سوله ورته خیانت جنایت د شهیدانو له وینو سره جفا او د نړۍ لخوا نجیب ته د ختو پوزه جوړول ښکاره کېده؛ خو دا هر څه هوا وه، خیال و او د سیاسي بصیرت نشتوالی و. طالبان هم په عین شرایطو کې قرار لري او همدغه راز فکر کوي، خو توپیرونه هم شته. هغه دا چې اوسمهال د طالبانو په دویم پوړ مشرتابه کې سنجیده خلک د ولسي اندېښنو د درک وړتیا لرونکي او په نړیوالو حساسیتونو باندې نسبتاً پوه افراد شته، ټول ولس او ټول سیاسیون په ټولیزه توګه په یوه خوله د نوییمې لسیزې د فاجعې د تکرار مخالفت کوي. دا په زړه پورې بدلون دی چې د نجیب د حکومت له سقوط وړاندې دغه ډول ولسي فکر هېڅ نه و. د چین او روسیې په ګډون ټوله نړۍ د افغانستان حالات ځاري او غبرګون ښیي.

په نوییمه لسیزه کې د مجاهدینو د مختلفو ډلو تر منځ سختو اختلافاتو، جګړو او بې باورۍ خپله مخینه درلوده، خو د طالبانو تر منځ نسبتاً یووالی او خپلمنځي یووالي ته د طالبانو جدي پاملرنه له پامه نشو غورځولی.

هغه وخت د وطن ګوند د یوې خوا مشرانو د روسانو په مرسته له مسعود سره لاسونه یو کړل او د واک د شیطاني حرص له امله د ځینو جهادي ډلو تر منځ سخت ټکر رامنځته شو. کابل وران شو، ملي بنسټونه ونړېدل او نیابتي جګړه پیل شوه، خو اوسنی صورت حال بدل دی.

د نجیب د حکومت پر مهال نوموړي یوازې په ملي ګارد باندې باور کاوه، پولیسو او اردو له ځانونو سره د سلیقوي او تبعضي چلن فکر کاوه؛ خو اوس د امنیتي ځواکونو تر منځ که همغږي نیمګړتیاوې لري؛ خو د باور د نشتون مرحله لاهم نه ده رارسېدلې.

کېدای شي مجاهدینو او نجیب د خپلو سیاسي نیمګړتیاوو له امله د فاجعې د رامنځته کېدو وړاندوینه نشوی کولای؛ نو د مخنیوي هڅه یې هم ونکړای شوه؛ خو ولسمشر غني او طالبانو ته د نوییمې لسیزې د ملوک الطوایفي ژوندی تاریخ پروت دی. هغوی باید په حتمي توګه د تاریخ له سخت او بې رحمه قضاوت څخه د ځان ژغورنې لپاره د ممکنه ناورین د مخنیوي هڅه وکړي.

بالاخره مجاهدینو او ولس فکر کاوه چې مجاهدین به له ملي ګټو، ارزښتونو او نړیوالو معیارونو سره سم اسلامي نظام جوړ کړي؛ مګر وخت ثابته کړه چې د دغه نوښت وړتیا یې نه درلوده او طالبان هم د نظام د جوړولو وړتیا قطعاً نه لري. حتماً به فکر وکړي چې د نظام نړول د هغوی په ګټه کار نه دی.

که مطلب را لنډ کړم نو ویلای شم چې که څه هم په اوسنیو حساسو تاریخي شېبو کې تر بل هروخت زیات د افغانانو تر منځ همغږي، نوښت، سیاسي بصیرت، ملي یووالي، ملي اجماع، له سولې څخه د مشرانو غوڅ ملاتړ، قرباني او پیاوړي عزم ته اړتیا شته؛ خو د بینن سیوان په خبرو باندې د وارخطايي اړتیا قطعاً نشته. البته د شرایطو ارزونه ایجابوي چې د دواړو خواو مشران د هوايي ډزو، احساساتي څرګندونو او جنګي مانورونو له کولو ډډه وکړي او هڅه وکړي چې هیواد کې اوسنی ګواښوونکی وضعیت پر فرصتونو بدل کړي.

## محب: له ترهګرۍ د پاکستان ملاتړ پټ نه دی، بلکې ټوله نړۍ پرې خبره ده

د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب په کابل کې د یوې خبري غونډې پرمهال له هغه سره د پاکستان د رسمي اړیکو نه پاللو په اړه بې خبري وښوده او زیاته یې کړه چې تر دې مهاله دغه پرېکړه د اسلام اباد لخوا له افغان حکومت سره نه ده شریکه شوې.

نوموړي په کابل کې خبریالانو ته وویل: «تر دې مهاله دغه پرېکړه په رسمي ډول د افغانستان له حکومت سره نه ده شریکه شوې، له پاکستان څخه د دا ډول غیر ډیپلوماتیک اقدام تمه نه کېږي، که رسمي شي، بیا به موږ د خپلو ډیپلوماتیکو ادرسونو له لارې ځواب ورکړو.»

دا په داسې حال کې ده چې پاکستان په دې وروستیو کې افغان چارواکو ته خبر ورکړی، چې نور د ملي امنیت له سلاکار حمدالله محب سره د رسمي کړنو په هکله اړیکې نه ساتي. پاکستاني چارواکو د دغه کار دلیل د محب هغه تندې څرګندونې بللي، چې نوموړي څه موده وړاندې په ننګرهار ولایت کې د پاکستان په هکله کړې وې.



د پاکستان د حکومت یوه لوړپوړي چارواکي چې د موضوع په هکله معلومات لري، امریکا غږ ته د نوم نه ښودلو په شرط ویلي چې د پاکستان حکومت د افغانستان د ملي امنیت د سلاکار، حمدالله محب د څرګندونو په غبرګون کې افغانستان ته د ژورې ناراضایۍ پیغام هم رسولی دی.

خو د ملي امنیت شورا سلاکار یو ځل بیا پاکستان د افغانستان په چارو کې په لاسوهنې تورن کړ او ټینګار یې وکړ چې کابل له اسلاماباد سره د ډیپلوماتیکو اړیکو غوښتونکی دی. هغه په ځانګړي ډول په کابل کې د سید الشهدا ښوونځي مخته او لوګر کې د مرګونو چاودنو تر شا د پاکستان لاس وباله او زیاته یې کړه چې د افغانستان او پاکستان اړیکې ښې نه دي او مخکې هم ښې نه وې.

د محب په خبره: «اړیکې ښې نه دي چې موږ اوس پر هغه کار وکړو او نه ښې وې. له پاکستان څخه مو تمه دا ده چې که غواړي چې اړیکې ښې شي، هغه غیري رسمي سرتېرو او تروریستانو ته چې په پاکستان کې مېشت دي، هغوی ته ځای نه ورکوي او له هغوی سره دې خپلې اړیکې قطعه کړي.»

نوموړي زیاته کړه چې پاکستاني چارواکو په دې برخه کې بیا بیا ژمنې کړې، خو عملي کړې یې نه دي. د هغه په خبره، په افغانستان کې د پاکستان مداخله او له ترورېستي ډلو د هغه هېواد ملاتړ کومه پټه خبر نه ده او په وینا یې نړیوالې ټولنه هم ورځخه خبره ده.

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د مې میاشتې پر ۱۷مه د افغانستان د ملي امنیت شورا د سلاکار حمدالله محب څرګندونې رد کړې وې او هغه یې غیر مسوولانه بللې وې.

# د پاکستان اټومي پروګرام کله پیل شو؟

اصف جیلاني؛ بي‌بي‌سي- پښتو

د پاکستان د هغه مهال لومړي وزیر محمد علي بوګره سپینه ماڼۍ کې د امریکا د وخت له ولسمشر ایزن هاور سره لیدلي او دا یې ورته ویلي وو، چې هېواد یې د اټومي وړتیا برخه کې د څېړنو او پرمختګ لپاره کمېسیون جوړ کړی دی.

د پاکستان لومړي وزیر دغه راز د امریکا لخوا د سولې لپاره اټوم (اټوم فار پیس) پلان کې د ګډون اعلان هم کړی و، چې د پاکستان اټومي پروګرام له همدې ځایه پیل شو.

دغه هېواد ژمنه کړې وه چې اټومي پروګرام به یې د وسلو او بمونو لپاره نه وي.

یاد مې دي هغه مهال به پاکستان کې پر دې تاوده بحثونه کېدل او ډېرو شنونکو د امریکا لخوا د «سولې لپاره د اټوم» پروګرام موخه دا ګڼله چې ګوندې واشنګټن غواړي له ځان پرته د نړۍ نور ټول هېوادونه د اټومي وسلو له درلودو بې برخې وساتي او د بندیزونو په لګولو سره یې د اټومي وسلو له جوړولو راوګرځوي.

پاکستان کې د ډېرو خلکو تندي پر دې ګونځې وو چې ولې یې د ایزن هاور دغه پلان منلی دی. دوی دا امریکا ته د ځان سپارلو پیلامه ګڼله.

تر دې سملاسي وروسته د امریکا او پاکستان تر منځ سیاسي، پوځي او اقتصادي برخو کې د هر اړخیزې همکارۍ او نږدېوالي دوره پیل شوه.

پاکستان ته همدغه کال د امریکا د دوو پوځي تړونونو «سیټو» او «سینټو» غړیتوب ورکړل شو.

واشنګټن پر دې سربېره د پراخو پوځي او اقتصادي مرستو بدل کې پاکستان کې پوځي اډې جوړې کړې، دغه هېواد ته یې پوځي سلاکاران راولېږل او دغه راز یې د پاکستان د پنځه کلن اقتصادي پلان جوړولو لپاره د پاکستان د پلان جوړونې کمېسیون کې خپل کارپوهان هم ځای پر ځای کړل.

امریکا په دې توګه پاکستان په بشپړ ډول انحصار کړ.

پر پاکستان د واشنګټن د بشپړ کنټرول پایله دا وختله چې د دغه هېواد مشرتابه هغه مهال د اټومي وسلو د جوړولو فکر له سره وباسي.

هغه مهال له امریکا سره پوځي تړونونه د پاکستان د دفاعي تدارک وسیله ګڼل کېده.

که څه هم ۱۹۶۰مه لسیزه کې دا خبرونه د ژبو پر سر وو چې هند ګواکې په چټکۍ سره د اټومي ازموینو په لور پرمختګ کوي، خو پاکستاني مشرانو بیا هم د اټومي وسلو ډګر ته له ور دانګلو چورلټ انکار وکړ.

په ۱۹۶۴ کال چې کله د ذوالفقار علي بوټو په مشرۍ پاکستانی پلاوی د هند د لومړي وزیر جواهر لال نهرو پر مړینې د خواشینۍ څرګندولو لپاره نوي ډیلي ته راغلی و، زه هم هلته وم.

یاد مې دي چې هغه مهال له نوموړي سره اوږده لیدنه کې د اټومي وړتیاوو برخه کې د هند پر پرمختګونو هم خبرې وشوې.

چې کله مې ترې اټومي وسلو ته لاسرسي لپاره د پاکستان د کار او زیار پوښتنه وکړه، نو ذوالفقار علي بوټو رانه ژمنه واخیسته، چې دا راز به نه برملا کوم.

نوموړي راته وویل چې په ۱۹۶۳ کال یې کابینې ته د پاکستان لخوا د اټومي وسلو د پروګرام د پیلېدو وړاندیز مخ ته کړی، خو ولسمشر ایوب خان، د هغه د خزانې امریکایي پلوه وزیر محمد شعیب او نورو وزیرانو دا وړاندیز په بشپړ ډول رد او پرېکړه وکړه چې پاکستان به اټومي وسلې نه جوړوي.

په ۱۹۶۸ کال چې کله ولسمشر ایوب خان د فرانسې په دوره تللی و، نو زه یې د سفر د پوښښ لپاره پاریس ته تللی وم.

د فرانسې د هغه مهال ولسمشر چارلس ډې ګال پاکستان کې د اټومي بټۍ د جوړولو وړاندیز وکړ، خو ایوب خان دا وړاندیز ونه مانه.

هغه ته دا مشوره د نوموړي د پوځ لوی درستیز جنرال یحیی خان، د ساینسي چارو ستر سلاکار ډاکټر عبدالسلام او د پلان جوړونې د کمېسیون مرستیال ایم ایم احمد ورکړې وه.

دې کې شک نشته چې د پاکستان لپاره د اټومي وسلو د جوړولو پلان ذوالفقار علي بوټو پیل کړ، چې په ۱۹۷۱ کال د بنګله دیش د جګړې پایله کې د پاکستان تر ویشل کېدو وروسته واک ته رسېدلی و.

بوټو د ولسمشر په توګه تر ټاکل کېدو سملاسي وروسته ایران، ترکیې، مراکش، الجزایر، تونس، لیبیا، مصر او سوریې ته چټک سفرونه وکړل، چې زه هم ورسره د دغو سفرونو پر مهال ملګری وم.

دغو سفرونو دوه مهمې موخې درلودې:

لومړی هدف له مسلمانو هېوادونو سره د اړیکو پیاوړتیا او دویم هدف د پاکستان اټومي پروګرام ته د دغو هېوادونو د مالي ملاتړ تر لاسه کول وو.

هغه دمشق کې د خپل دغه سفر د پای پر مهال د سورېې ولسمشر حافظ الاسد ته ویلي وو، چې دا دوره یې د رنسانس د سفر پیل دی او اسلامي نړۍ د پاکستان د تخصص او د مسلمانو هېوادونو د شتمنۍ له لارې اټومي وسلو ته لاسرسی موندلی شي.

هغه تر دغه سفر وروسته په ۱۹۷۳ کال د پاکستان لخوا د اټومي وسلو د جوړولو پروګرام عملاً پیل کړ.

ذوالفقار علي بوټو په دې لړ کې د اټومي وړتیاوو د کمېسیون مشر بدل، د ساینسي چارو ستر سلاکار ډاکټر عبدالسلام ګوښه او د نوموړي پر ځای یې له هالنډ څخه ډاکټر عبدالقدیر خان پاکستان ته راوغوښت.

هغه همدا راز د فرانسې حکومت دې ته چمتو کړ چې پاکستان کې د اټومي بیا پروسس د بټۍ جوړولو پر پخوانې وړاندیز له سره خبرې وکړي.

د بوټو لخوا د اټومي پروګرام په تړاو په چټکۍ دا پورته کېدونکي ګامونه د امریکا نه خوښېدل او د امریکا د هغه مهال بهرنیو چارو وزیر کیسنجر خو په دې لړ کې په زغرده دا ګواښ هم کړی و، چې که بوټو د اټومي بیا پروسس د بټۍ پر پلان ټینګار ته دوام ورکړي، نو پاتې به نشي.

خو بوټو وار له مخه د اټومي وسلو پروګرام پیل کړی و او څېړنیز کارونه یې روان وو.

پاکستاني ساینسپوهانو په ۱۹۷۶ کال د کوټې په ازموینځي کې د یورانیمو د بډایولو چارې پیل کړې.

هڅو یې په ۱۹۷۸ کال کې پایله ورکړه او تر ۱۹۸۲ کال پورې یې د یورانیمو د نوي سلنه بډایولو وړتیا موندلې وه.

د ډاکټر عبدالقدیر خان په وینا، د پاکستان اټومي ساینسپوهانو په ۱۹۸۴ کال کې د اټوم بم د جوړولو وړتیا موندلې او جنرال ضیاالحق ته یې ویلي وو، چې په زغرده اعلان وکړي چې هېواد یې د اټومي بم د جوړولو هوډ کړی، خو د نوموړي امریکایي پلوه بهرنیو چارو وزیر او نورو وزیرانو د دغه کار کلک مخالفت وکړ.

بالاخره کله چې هند د ۱۹۹۸ کال مې میاشت کې اټومي ازموینې وکړې، نو پاکستان ته هم بله لار نه وه پاتې او په دې توګه دغه هېواد هم د اټومي ځواک درلودونکو هېوادونو په کتار کې ودرېد.

# د کرونا د خطر زنګ؛

## روغتیا وزارت په ۱۶ ولایتونو کې د کرونا له کبله د ښوونیزو مرکزونو د تړل کېدو اعلان وکړ



عامې روغتیا وزارت په هېواد کې د کرونا ویروس د نوې څپې د مخنیوي په موخه د کابل په ګډون په ۱۶ ولایتونو کې د دوو اونیو لپاره د ټولو ښوونیزو مرکزونو د تړل کېدو اعلان کړی. د یاد وزارت چارواکي وایي چې دا پرېکړه یې له پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو سره تر مشورې او په هېواد کې د دغه ویروس د مثبتو پېښو له زیاتېدو وروسته کړې ده.

د دغه وزارت سرپرست وحید مجروح تېره ورځ د پوهنې او لوړو زده‌کړو وزارتونو له مسوولینو سره په یوه ګډ خبري کنفرانس کې وویل چې په دې وروستیو کې د هېواد په ډېریو ولایتونو کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې په مخینې ډول زیاتې شوي او له همدې کبله دوی اړ شول ترڅو په هغو ولایتونو کې چې مثبتې پېښې پکې ډېرې دي، د ښوونیزو مرکزونو د تړلو پرېکړه وکړي.

عامې روغتیا وزارت وایي چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د هېواد په ډېریو لابراتوارونو کې د کرونا ویروس ۶۵۴ مثبتې پېښې ثبت شوي چې له دې ډلې یې ۲۰ کسان مړه شوي او دغو شمېرو ته په کتو، په هېواد کې د کرونا ویروس د نوې څپې پېښې په بې مخینې ډول د زیاتوالي په حال کې دي.

د سرچینې په خبره، کابل، غزني، هلمند، کندهار، لوګر، ننګرهار، پکتیا، پروان، وردک، پنجشیر، بلخ، لغمان، بدخشان، کاپیسا، کندز او نیمروز هغه ولایتونه دي چې دوې اونۍ به پکې ټول ښوونیز مرکزونه تړلي وي. دغه وزارت په دې اړه په خپره کړې اعلامیه کې په افغانستان کې د کرونا ویروس وضعیت جدي او د اندېښنې وړ بللی دی.

بلخوا د پوهنې او لوړو زده‌کړو وزارتونو چارواکو او د ازموینو ملي ادارې د عامې روغتیا وزارت دغه پرېکړه منلې او ویلي یې دي چې تر دوو به په یادو ۱۶ ولایتونو کې ټول ښوونځي، پوهنتونونه او ښوونیز مرکزونه تړلي وي.

لوړو زده‌کړو وزارت دا هم ویلي چې د کابل د کانکور ازموینې ګډوناوال دې بایومتریک پروسې د ترسره کولو لپاره تر بل اعلانه په تمه شي. د پوهنې وزارت سرپرستې رنګینې حمید په کابل کې په همدې تړاو په یوه خبري غونډه کې ووې: «دا د ژوند او مرګ مسئله ده، زه د پوهنې د مسوولې په توګه چې په میلیونونو زده‌کوونکي او ښوونکي مو ښوونځیو ته راځي، دنده مې ده چې د عامې روغتیا وزارت وړاندیز ومنو او همکاري ورسره وکړو.»

د لوړو زده‌کړو وزیر عباس بصیر بیا ټینګار وکړ، چې په پاتې نورو ولایتونو کې دې په ښوونځیو او پوهنتونونو کې روغتیایي تدابیر په جدي ډول مراعات شي.

نوموړي زیاته کړه: «موږ د لوړو زده‌کړو وزارت اړونده ټولو ادارو، پوهنتنونو او د لوړو زده‌کړو موسسو ته لارښوونې کړې چې د روغتیا وزارت د لارښوونو پر بنسټ ټولې وقایوي سپارښتنې مراعت کړي.»

عامې روغتیا وزارت داسې مهال د هېواد په ۱۶ ولایتونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تړل کېدو خبره کوي، چې د یاد وزارت په خبره، افغانستان اوسمهال د کرونا ویروس له درېیمې او وژونکې څپې سره مخ دی او که خلک په دې برخه کې له دوی سره مرسته ونه کړي او روغتیایي سپارښتنې جدي ونه ګڼي، ښایي افغانستان به هم د نورو هېوادونو په څېر د دغه ویروس له کبله له جدي ګواښ سره مخ شي.

# د کرونا درېیمه او وژونکې څپه؛

## په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له درې میلیونه او ۵۴۰زره زره کسانو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۷۰میلیونه او ۲۵۴ زره او ۹۵۷ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۵۴۰زره او ۳۹۷ کسان مړه شوي او نږدې ۱۵۲ میلیونه ډېر نور ترې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او ۲۲زره او ۹۴۹ ته رسېدلي او ۶۰۸ زره او ۹۶۸ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۲۷میلیونه او ۷۵۲ زره او ۹۶۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۶میلیونه او ۳۹۲زره او ۶۵۷ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۶۴۶ زره او ۸۹۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د پنځه میلیونه او ۲۲۸ زره او ۳۲۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.


روسیه، برېټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي. هند بیا په نړۍ کې له امریکا وروسته او په اسیا کې تر ټولو مخکښ هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس تر ټولو زیاتې مثبتې پېښې پکې ثبت شوي دي. په دغه هېواد کې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د کرونا ۳۳زره او ۵۳۱ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۵۹۸ کسان ترې مړه شوي دي. دغو شمېرو ته په کتو داسې ښکاري چې په دغه هېواد کې د کرونا اوسنۍ څپه مخ په ټیټېدو ده. په دې وروستیو کې په هند کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې او د مړو شمېر په بې مخینې ډول لوړ شو، چې ان دغه هېواد یې له یاد ویروس سره د مبارزې په برخه کې بهرنیو مرستو ته اړ کړ.

## د کتــاب خبـري

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه
### راتلونکې ته نظر




• د دغه ټیم اساسي دنده به دا وي، چې له مقابل لوري سره په منظم ډول اړیکه کې وي، د مسایلو په اړه نظریات تبادله کړي، شخړې مدیریت کړي، د پرېکړه کوونکو د باور ترلاسه کولو او د طرفینو لخوا د عجولانه غبرگونونو د مخنیوي هڅه وکړي.
• دا ډله باید د ممبیي برید په څېر د ناوړه وضعیت پر مهال داسې نوښتگر وړاندیزونه وکړي، چې له مخې یې دواړه هېوادونه سره همکاري وکړای شي؛ د بېلگې په توگه په کشمیر یا افغانستان کې د بربېښنا بند گډه پروژه. دا به دواړه خواوې ډاډمنې کړي، چې بدغوښتونکي یې ترمنځ لاسوهنه نشي کولی.
• په بحراني حالاتو کې باید له هر ډول خصمانه حرکتونو ډډه وشي، چې دا به له سیاسي اړخه مدبرانه کار وي.
• عقلاً دا د متعارفي پوهې او هوښیارۍ خلاف عمل نه دی، چې د متضادو خواوو ترمنځ د منځگړیتوب لپاره ځیرک کسان وگومارل شي. دا به د اروپا د امنیت او همکاریو سازمان «OSCE» اصلاح شوې بڼه وگڼل شي، چې د سړې جگړې پر مهال په اروپا کې د شخړو د مخنیوي په موخه رامنځته شو او په ختیځ او لویدیځ د وېشل شویو خواوو استازي په کې وو. د وارسا تړون د غړو په گډون ټولو هېوادونو دغه سازمان ته واک ورکړ، چې د منځگړي رول ولوبوي. دا د دودیزې جرگې، چې د متضادو خواو ترمنځ د پخلاینې هڅه کوي، اداره کېدونکې بڼه هم گڼل کېدای شي.
• که دا جوړښت په سیمه ییزه کچه وټاکل شي، اړین ملاتړ ولري او د وخت په تېرېدو سره د باور رامنځته کولو چارو کې له مداخلو پاک وساتل شي، نو په اوږد مهال کې به د شخړو له مدیریت څخه د شخړو د هواري پروسې باعث وگرځي.
• د دغه ټیم غړي باید ستړي ژمني ونه کړي، مهم ټکي په نښه او د مسایلو د ښه روښانه کېدو غوښتونکي شي.
• د دغه ټیم تر ټولو مهمه دنده به دا وي، چې له وړاندې د ټاکل شویو لیدلوریو او اټکلي اهدافو ښکار نه شي؛ د حالاتو د پرمختگ لپاره باید خپلې ارزونې سمې ډلبندي کړي.
دوراني: ما د یوه پوځي شخص په توگه یو جوړښتي ځواب درکړ.
دولت: جوړښتونو خو موږ له پېچلتیا سره مخامخ کړي یو ښاغلیه!
دوراني: همداسې په ساده ډول ویل چې دا او هغه باید وکړو، مرسته نه کوي. ښایي پوښتنه وکړئ چې څنگه؟ لاره یې کومه ده؟ دا لار په یوه اساسي جوړښت او د هغې په خاکه کې نغښتې ده. مخکې مو دا کار کړی دی.
دولت: ته سم وایې، ما د اقداماتو خبره وکړه په داسې حال کې چې تاسې دا بېلگې رامخ ته کړې، او اوس به بیا وایئ چې بېرته د اقداماتو موضوع ته وگرځېدم. ترمنځ شته کنگلونه باید یو ځای کې مات شي. دا لعنتي کنگل خورا پنډ دی او د ماتولو لپاره یې باید ځینې کسان حیران شي. همدا لامل دی، چې زه د دغه کار لپاره مودي ته بشپړې نومرې ورکوم، که څه هم ستاسې په گډون په پاکستان کې ځینې کسان هغه ته د سویلې آسیا د غافله کوونکي او ننداره جوړونکي خطاب کوي. ما وویل پوره نومرې، هغه دا ځیرکتیا درلوده چې رایونډ ته لاړ شي. پاکستانۍ رسنۍ گونگې وې.
دوراني: هغه خو لېوني دي.
دولت: موږ ټول لېوني یو.
دوراني: تاسې وړاندیز شوي جوړښت ته وگورئ. دا یې لومړی ځل نه دی، خو ډېر لرغونی هم نه دی. زه دا نه وایم، چې موږ د بشري تاریخ په پنځو، لسو، یا دوه زره کلونو کې وکړای شو له یوه نوي شي سره راشو. ما په افغانستان او دوحه کې د متحدو ایالتونو او د اسلامي نړۍ د مذاکراتو پر مهال دا وړاندیز وکړ. د هند ـ پاکستان په قضیه کې، د پردې تر شا له رئیسانو سره د سلاکارانو په توگه ځینې بې تجربې او ناپېژانده څېرې کار کوي، چې د هغوی غوږونه او باور یې قبضه کړی دی. دوی دا راز بل اړخ ته هم لاسرسی لري.
دولت: نو تاسې ددې پلوي یاست، چې زموږ دا شپږ کسیز بحث دوه کسیز ته راکم کړو؟
دوراني: په یوه پوځي مانور کې تاسې دوه او څلور دواړه درلودای شئ، هېڅ پروا نه کوي. خلک او رول یې مهم دی.
دولت: ولې دا نښې نښانې جدي نه نیسئ؟
دوراني: هغه یوې منځپانگې ته اړتیا لري. د بېلگې په توگه د ممبیي له پېښې وروسته، چې دواړه حکومتونه سره ښکېل وو، ما د هند له حکومت سره د خواخوږۍ په پار وویل چې څه باید وکړي. نوي ډیلي ان له ښه نیت او ښه مشرتابه سره، سره نشي ویلی، چې د ممبیي پېښه پرېږدي او له پاکستان سره اړیکه کې واوسي.
دا ډله به په همداسې مهال لاس په کار کېږي، اړیکې به نیسي او وایي به، چې هېڅ محسوس حرکت ته زمینه مساعده نه ده. **دوام لري...**

# افغانستان د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




افغانستان د لوړو زده کړو موسسه چې په کابل ښار کې موقعیت لري، د ۱۳۹۱ کال د مېزان میاشتې په لسمه نېټه یې پر فعالیت پیل وکړ، چې په لومړیو کې یې یوازې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی درلود، خو له هغه وروسته یې د پوهنځیو شمېر ډېر کړ او په ۱۳۹۴ کال کې یې په نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ کې د ماسټرۍ پروگرام هم پیل کړ. د افغانستان د لوړو زده کړو موسسې مالي او اداري مسوول ښاغلي حسیب الله وویل، اوسمهال دوی دوه پوهنځي لري چې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې نړیوالې اړیکې او د مطالعاتو پراختیا ډیپارټمنټونه لري.

ښاغلي حسیب الله وویل، دوی د لسانس او ماسټرۍ په دواړو پروگرامونو کې ټول ۶۰۰ محصلین لري، چې له دې ډلې ۱۵۰ یې ښځینه محصلینې او پاتې نور یې نارینه محصلین تشکیلوي.

ښاغلي حسیب الله زیاته کړه، دوی تر دې تمه له خپلو دوو پوهنځیو څخه په اتو دورو کې ۴۵۰ محصلین د لسانس په کچه فارغ کړي او ۱۵۰ یې له ماسټرۍ پروگرام څخه فارغ شوي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

د افغانستان د لوړو زده کړو موسسې د مالي او اداري مسوول ښاغلي حسیب الله په وینا، دوی هر کال خپلو دوو پوهنځیو ته شاوخوا ۶۰ محصلین د لسانس دورې لپاره د لوړو زده کړو په موخه جذبوي او د ماسټرۍ پورگرام لپاره هر کال ۹۰ کسان جذبوي او د لوړو زده کړو اسانتیاوې ورته برابروي.

ښاغلي حسیب الله همدا راز وویل، دوی د خپلې لسانس دورې محصلینو لپاره ځانگړې تخفیف په پام کې نیولی، داسې چې ښځینه محصلینو ته په خپل سمیستروار فیس کې ۳۰ سلنه او نارینه محصلینو ته ۲۰ سلنه تخفیف ورکوي. د نوموړي په وینا، د ماسټرۍ دورې محصلینو ته تخفیف نه لري.

ښاغلي حسیب الله زیاته کړه، دوی د ورځې په دوو درسي ټایمونو کې تدریسي چارې پر مخ وړي، چې یوه یې سهارنۍ دوره ده چې د سهار له اتو د غرمې تر یوولسو بجو دوام کوي او بله یې ماښامنۍ دوره ده چې د ماذیگر له پنځو د ماښام تر اتو بجو دوام کوي. د دغه موسسې مسوولین وایي، ځکه یې سهار وختي او د شپې ناوخته درسي ټایمونه جوړ کړي، چې ډېری محصلین یې یا رسمي دندې لري او یا هم د ورځې په اوږدو کې پر یو شخصي کاروبار لگیا وي.

د افغانستان د لوړو زده کړو موسسې یاد مسوول وویل، دوی د لسانس دورې لپاره ټول ۶۰ استادان لري، چې لس تنه یې ښځینه استادانې او پاتې نور یې نارینه دي. د نوموړي په وینا، له دې ډلې یې ډېری برخه د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او پاتې استادان چې ماسټري یې نه ده کړې، ډېر ژر به ورته دا فرصت هم برابر کړي. ښاغلي حسیب الله زیاته کړه، د ماسټرۍ پروگرام د تدریسي چارو لپاره ټول پنځه استادان لري چې ټول یې په نړیوالو اړیکو کې د دوکتورا تر کچې لوړې زده کړې لري او د افغانستان د لوړو زده کړو په موسسه کې تدریسي چارې پر مخ وړي.

ښاغلي حسیب الله وویل، دوی د افغانستان د لوړو زده کړو په موسسه کې د خپلو محصلینو لپاره کتابتون لري، چې تر ۳۲۳۰ جلده پورې مهم او تخصصي کتابونه لري. نوموړي همدا راز وویل، دوی پر فزیکي کتابتون سربېره، الکترونیکي کتابتون هم لري چې تر ۴۰۰۰۰ پورې کتابونه پکې دي او محصلین کولای شي وخت ناوخت ورته مراجعه وکړي او خپل د اړتیا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي.

ښاغلی حسیب الله زیاتوي چې افغانستان د لوړو زده کړو موسسه په هېواد کې د ننه له ډېرو پوهنتونونو لکه جامي پوهنتون، خورشید پوهنتون او داسې نورو سره علمي او اکاډمیکې اړیکې لري او پر دې سربېره له هېواده د باندې د هندوستان او ایران هېوادونو له ځینو پوهنتونونو سره هم علمي اړیکې لري، چې وخت ناوخت ورسره په متقابل ډول علمي تجربې شریکوي او خپل محصلین د علمي پروگرامونو د څارلو په موخه ورلېږي.

ښاغلي حسیب الله زیاته کړه، دوی تر دې دمه خپلو فارغو محصلینو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي شاوخوا ۳۰ ډیپلومه توزیع کړي دي او پاتې نورو ته یې سرټیفیکټونه او ترانسکرېپټونه توزیع کړي، څو یې له حقوقو څخه گټه واخلي.

ښاغلی حسیب الله زیاتوي چې افغانستان د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو د علمي سویې د لوړاوي په موخه ځینې پروگرامونه لري، لکه د بازار موندنې مرکز رامنځته کول، په موسسه کې د ننه شنه او ارامه فضا، مجهز کتابتون، ورزشي سټډیوم او ډېر علمي او تجربوي پروگرامونه، ورکشاپونه او سمینارونه هغه څه دي چې د محصلینو د علمي سویې د لوړولو په برخه کې یې اسانتیاوې رامنځته کړې دي.

ښاغلي حسیب الله زیاته کړه، دوی د موسسې د لا بډاینې او پرمختگ لپاره ځینې پلانونه لري، چې په نږدې راتلونکي کې به یې عملي کړي، چې له هغې ډلې کولای شو پوهنتون ته د موسسې ارتقاع، د نوو پوهنځیو رامنځته کول، د ماسټرۍ پروگرام لپاره د نورو رشتو ټاکلو او ځینو نورو ته اشاره وکړو.

ښاغلي حسیب الله همدا راز وویل، دوی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې د لوړو زده کړو خصوصي موسسو ته دې لا ډېره پاملرنه وکړي، اسانتیاوې دې ورته برابرې کړي، د لوړو زده کړو له خصوصي موسسو سره دې خپلې همکارۍ زیاتې کړي او د خصوصي موسسو د اداري چارو د پرمخ بېولو لپاره دې ځانگړې پاملرنه وکړي او شفافیت دې پکې رامنځته کړي څو دوه اړخیز چلند نه وي شوی او د یادو موسسو علمي او ښوونیزې چارې پر وخت او غوره توگه پر مخ تللې وي.

د دغه موسسې مسوولین وایي، که لوړو زده کړو وزارت دوی ته د تدریس لپاره یو دایمي ځای په واک کې ورکړي، دا چاره به یې د محصلینو پر وړتیاوو ښه اغېز ولري؛ ځکه دوی به په ارام او ډاډه زړه هلته زده کړې کوي. د حسیب الله په خبره، له یوه ځایه بل او له بل ځایه بل ته یې د موسسې انتقال دوی او محصلین له ډېرو ستونزو سره مخ کړي دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,٤ |
| € | ۹٤,٦ |
| Rp. | ٤۹٥ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۸,۷ |

### بیړنۍ شمیرې

| | |
|---|---|
| پولیس | 119 - 100 |
| امبولانس | 112 |
| اتاترک روغتون | 0202500312 |
| ملالۍ زېږنتون | 0202201377 |
| وزیر محمد اکبر خان روغتون | 0202301360 |
| رابعه بلخي روغتون | 0202100439 |
| د کرونا روغتیایي مرکز | 166 |

همیانی

# غذاهای ممنوع در دوران شیردهی

امین همتی

بیشتر مادران به‌خصوص مادران جوان نگران تغذیه نوزادشان در دوران شیردهی هستند. در این مقاله، سعی داریم غذاهای ممنوع در دوران شیردهی را به شما معرفی کنیم تا راحت‌تر مواد غذایی را انتخاب کنید و بهتر مراقب کودک دلبندتان باشید. تا انتهای مقاله با ما همراه باشید.

بسیاری از مواد خطرناکی که طی بارداری از جفت عبور می کنند در دوران شیردهی به کودک شیرخوار نمی‌رسند. از آنجا که فهرست موادی که مادران نباید در دوران بارداری استفاده کنند طولانی است، بعضی افراد گمان می‌کنند در دوران شیردهی نیز نباید بسیاری از مواد غذایی را مصرف کنند. منتها به‌جز چند مورد خاص، غذای ممنوعی در دوران شیردهی وجود ندارد. به‌جای آن، لازم است غذاهای سالم بخورید و به اثر آن روی کودکتان توجه کنید.

**۱ـ ماهی با جیوه زیاد**

ماهی منبع غنی از دوکوزاهگزانوئیک اسید یا دی‌اچ‌ای (DHA) و ایکوزاپنتانوئیک اسید یا ای‌پی‌ای (EPA) است. این دو ماده دو نوع اسید چرب امگا ۳ هستند که برای رشد مغز جنین مهم است و به‌سختی در غذاهای دیگر یافت می‌شوند. با این حال، بعضی از ماهی‌ها و غذاهای دریایی میزان زیادی جیوه دارند. جیوه ماده‌ای است که ممکن است سمی باشد. نوزادان و کودکان بیشتر از سایر گروه‌های سنی به مسمومیت با جیوه حساسیت نشان می‌دهند.

قرارگرفتن در معرض جیوه زیاد ممکن است روی دستگاه عصبی مرکزی نوزاد اثر دائمی داشته باشد و موجب تأخیر یا نقص در موارد زیر شود:

شناخت؛ مهارت‌های حرکتی؛ رشد گفتاری و زبانی؛ ادراک دیداری ـ فضایی. به همین دلیل، باید از مصرف ماهی‌هایی دارای جیوه زیاد در دوران شیردهی خودداری کرد. البته همچنان می‌توانید از ماهی‌هایی با جیوه کم استفاده کنید. در واقع، پیشنهاد می‌شود مادران شیرده هر هفته ۲۲۵ تا ۳۴۰ گرم ماهی با جیوه کم بخورند که منبع خوبی از دی‌اچ‌ای و ای‌پی‌ای است.

**۲- کافئین**

قهوه، نوشیدنی‌های گازدار، چای و شکلات منابع معمول کافئین‌اند. زمانی که کافئین مصرف می کنید، بخشی از آن در نهایت وارد شیر شما می‌شود. تجزیه کافئین در بدن کودکتان به‌سختی انجام می‌شود. نوشیدن ۲ تا ۳ فنجان قهوه (۳۰ میلی‌گرم کافئین) در روز بی‌ضرر است؛ اما مصرف مقدار زیاد کافئین در طول زمان ممکن است در بدن کودک تجمع یابد و موجب تحریک‌پذیری و مشکل خواب نوزاد شود.

نوشیدنی‌های انرژی‌زا اغلب حاوی ویتامین، مواد گیاهی اضافی و مقدار زیادی کافئین‌اند. به خانم‌هایی که در دوران شیردهی‌اند توصیه می‌شود از این نوشیدنی‌ها استفاده نکنند، مگر زمانی که پزشک مصرف آن را تأیید کرده باشد.

شکلات نیز حاوی کافئین است و به همین دلیل، نباید در مصرف آن زیاده‌روی کرد. هرچند می‌توانید تکه‌ای کوچک از شکلات یا دسر شکلاتی را بخورید؛ اما در مقدار زیاد ممکن است تئوبرومین (نوعی ماده محرک) موجود در شکلات مانند کافئین روی کودک اثر بگذارد.

شکلات تلخ بیشتر از شیر شکلات تئوبرومین دارد و شکلات سفید هیچ تئوبرومینی ندارد.

**۳- مشروبات الکلی**

استفاده از مشروبات الکلی در هیچ زمانی و به‌خصوص در زمان شیردهی مناسب نیست. الکلی که مصرف می کنید وارد جریان خون شما می‌شود و سپس از طریق شیر به بدن نوزاد می‌رسد. باورهای قبلی بر این بود که الکل میزان شیر را بیشتر می کند؛ اما تحقیقات جدید نشان می‌دهد اتفاقاً مصرف الکل میزان تولید شیر را کاهش می‌دهد.

**۴- غذاهای کاملاً فراوری‌شده**

برای تأمین مواد غذایی موردنیاز در دوران شیردهی لازم است رژیم غذایی سالم و متعادل داشته باشید. غذاهای فراوری‌شده معمولاً کالری بالا، چربی ناسالم و قند اضافی دارند و برعکس، فیبر، ویتامین و مواد معدنی کمی دارند؛ بنابراین توصیه می‌شود تا حد امکان مصرف این مواد غذایی را کم کنید.

تحقیقات جدید نشان می‌دهد رژیم غذایی مادر در دوران شیردهی می‌تواند بر رژیم غذایی کودک در سال‌های بعد اثر داشته باشد.

به‌خصوص تحقیقات حیوانی نشان می‌دهد طعم‌هایی که نوزاد از شیر مادر دریافت می‌کند ممکن است در تمایلات غذایی او در سال‌های بعد نقش داشته باشد؛ برای مثال، موش‌هایی که مادرانشان رژیم غذایی نامناسب داشته‌اند نسبت به موش‌هایی که مادرشان رژیم غذایی سالم و متعادل داشته‌اند بیشتر به غذاهایی با چربی و قند بالا تمایل نشان می‌دهند.

هرچند بررسی‌های انسانی بیشتری در این زمینه لازم است، این نگرانی وجود دارد که مصرف زیاد غذاهای چرب و قندی از سمت مادر، ممکن است عادات غذایی نامناسب و چاقی را در کودکان به همراه داشته باشد.

**۵- برخی گیاهان دارویی**

مصرف گیاهان دارویی یا ادویه‌جاتی مثل جعفری یا ریحان در دوران شیردهی بی‌ضرر است؛ اما درمورد داروهای گیاهی و بعضی مکمل‌ها جای نگرانی وجود دارد. از آنجا که این مکمل‌ها را سازمان غذا و دارو تأیید نکرده است ممکن است به فلزات سنگین خطرناک آلوده باشند. در حالی که بیشتر مادران سعی می کنند از مکمل‌هایی برای افزایش شیر استفاده کنند، اسناد کمی راجع‌به اثرگذاری گیاهان دارویی در افزایش شیر وجود دارد و بیشتر آنها در مقایسه با دارونما هیچ تفاوتی در تولید شیر مادر ایجاد نمی کنند.

بعضی گیاهان دارویی خاص و دمنوش‌ها برای دوران شیردهی مناسب نیستند؛ بنابراین قبل از مصرف داروهای گیاهی با پزشک مشورت کنید.

**چقدر باید نگران باشیم؟**

شیر مادر ماده‌ای بسیار مقوی است و بیشتر مواد مغذی موردنیاز کودک برای ٦ ماه اول زندگی را فراهم می‌کند. شیر مادر از مواد غذایی موجود در خون مادر تولید می‌شود و تحقیقات نشان می‌دهد غذای مصرفی مادر در محتوای شیر اثر می‌گذارد. البته مثلا غذایی که در شما نفخ ایجاد نمی‌کند معمولاً برای کودکتان نیز نفاخ نیست؛ اما بچه‌ها باهم تفاوت دارند.

اگر متوجه شدید بعد از خوردن غذایی خاص کودک شما آشفته، دارای نفخ و بی‌خواب می‌شود، درمورد رژیم غذایی و موارد مربوط به آن با پزشک صحبت کنید. بعضی علائم شایع نشان می‌دهند رژیم غذایی شما روی کودک اثر می‌گذارد که می‌توان به موارد زیر اشاره کرد:

اگزما؛ کهیر؛ اسهال؛ عطسه؛ احتقان؛ یبوست؛ استفراغ؛ نفخ اضافی؛ خون در مدفوع نوزاد؛ سروصدای غیرمعمول.

وجود هرکدام از این علائم نشان می‌دهد کودکتان به ماده‌ای در رژیم غذایی شما حساسیت غذایی یا عدم‌تحمل غذایی دارد. در نتیجه، باید با پزشک اطفال صحبت کنید تا غذای مشکل‌ساز شناسایی شود. گاهی لازم است ۲ تا ۴ هفته از ماده حساسیت‌زا استفاده نکنید تا علائم فروکش کند.

ممکن است بعضی کودکان حساسیت یا عدم‌تحمل غذایی را در سنین بالاتر هم از خود نشان دهند؛ بنابراین قبل از افزودن این مواد به رژیم غذایی خودتان یا کودکتان با پزشک مشورت کنید.

واکنش کودکتان به مواد موجود در رژیم غذایی‌تان ممکن است ناشی از عدم‌تحمل غذایی یا موضوع دیگری باشد. عدم‌تحمل غذایی، برخلاف حساسیت (که نوعی واکنش ایمنی است)، نوعی بیماری گوارشی محسوب می‌شود. علائم عدم‌تحمل غذایی شامل موارد زیر است: جوش؛ احتقان؛ استفراغ؛ نق‌نقی‌بودن؛ اسهال خونی.

دو حالت رایج عدم‌تحمل غذایی در نوزادان در ادامه آورده شده است:

عدم‌تحمل پروتئین شیر گاو: اگر کودکتان به این بیماری مبتلا بود، باید از خوردن هر نوع غذای حاوی شیر، فراورده‌های شیری، کازئین، کشک و کازئینات سدیم خودداری کنید.

عدم‌تحمل پروتئین سویا: اگر کودکتان به این بیماری مبتلا بود، از مصرف تمام محصولات سویا مثل توفو، تمپه، تاماری، سس سویا، شیر سویا، میسو و ادامام خودداری کنید.

**آیا ممکن است کودک من به غذاهایی که می‌خورم حساسیت داشته باشد؟**

حتی اگر غذاهای حساسیت‌زا (مثل بادام‌زمینی، ماهی، صدف دریایی و تخم مرغ) بخورید، خیلی بعید است شیر شما در کودکتان واکنش حساسیتی ایجاد کند. اگر کودکتان واکنش حساسیتی (مثل اگزما یا جوش، آبریزش بینی، عطسه، سرفه، قرمزی و آبریزش چشم، استفراغ یا اسهال) داشت، شاید علت آن چیزی باشد که کودک با آن در تماس است، که می‌توان به صابون، موی حیوان خانگی، آلودگی، گرده گیاهان یا غذاهای مصرفی خود کودک اشاره کرد.

**آیا غذاهای مصرفی موجب نفخ در کودک شیرخوار می‌شود؟**

خیر. مصرف غذاهای خاص موجب نفخ کودک نمی‌شود. نفخ نوعی واکنش موضعی در مجرای گوارشی است؛ بنابراین غذاهایی که در شما نفخ ایجاد می‌کنند روی گوارش کودکتان اثر نمی‌گذارند. شاید شنیده باشید پرهیز از مصرف غذاهای خاص مثل جعفری، میوه‌ها، ادویه‌ها (دارچین، کاری و فلفل چیلی) و سبزیجات نفاخ (کلم، پیاز، کلم بروکلی، گل کلم) به کاهش نفخ کودک کمک می‌کند؛ اما هیچ سند علمی‌ای برای تأیید این موضوع وجود ندارد.

**آیا باید از خوردن غذایی با طعم تند مثل سیر پرهیز کرد؟**

خیر. هرچند بعضی غذاهای با طعم تند روی مزه شیر شما تأثیر می‌گذارد، به نظر می‌رسد بیشتر کودکان از ایجاد تنوع در طعم شیر لذت می‌برند. به‌طور کلی، طعم غالب رژیم غذایی شما، چه سیر و چه فلفل چیلی، طی بارداری در مایع آمنیونی شما وجود داشت. جنین قبل از تولد مقداری از این مایع آمنیونی را می‌بلعد و زمانی که دوباره آن طعم‌ها را در شیر مادر می‌چشد، برایش آشناست.

# عبدالله: د سولې په پروسه کې به تېرې لاسته راوړنې خوندي وي، افغانان به تېر ته ونه گرځي



د ملي مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله ویلي، چې د سولې په روان بهیر کې به د افغانانو تېرې شل کلنې لاسته راوړنې او د مېرمنو حقونه خوندي وي.

نوموړي په سپیدار ماڼۍ کې د مرکچي پلاوي له ښځینه غړو او د ښځو د حقونو له یو شمېر فعالانو سره په لیدنه کې ټینگار کړی، چې افغانستان به بېرته تېر ته ونه گرځي. عبدالله د سولې په پروسه کې وروستیو پرمختگونو ته په اشارې ویلي، چې د سولې په پروسه کې د افغانانو لاسته راوړنې، د مېرمنو ځای او حقوق خوندي او غښتلي کېږي. د نوموړي دا څرگندونې داسې مهال دي، چې د حکومت د مرکچي پلاوي غړي حفیظ منصور بیا ویلي چې طالبان د سولې له هېڅ یوې طرحې سره موافقه نه کوي او غواړي د جگړې له لارې واک ته ورسېږي.

هغه ویلي، چې طالبانو د راتلونکي حکومت د څرنگوالي په اړه د دوی یو وړاندیز هم نه دی منلی، خو ټینگار کوي چې دوی د بشپړ اسلامي حکومت غوښتونکي دي. د ده په خبره، طالبان په دې باور دي چې د جگړو له لارې باید واک ته ورسېږي او وروسته تر هغې په خپله خوښه حکومت جوړ کړي. هغه زیاته کړې چې مشارکتي حکومت جوړول د ټولو اړخونو په گټه دی او طالبان باید په دې پوه شي چې د جگړو دوام او نظامي فشار دوی بریا ته نه شي رسولی.

افغان چارواکي داسې مهال د سولې په تړاو دغه څرگندونې کوي، چې تر اوږده ځنډ وروسته په دوحه کې د سولې دواړو مذاکراتي ټیمونو په خپلو کې سره کتلي او پر راتلونکو پلانونو یې خبرې کړي. دواړو لورو په جلا جلا بیانونو کې ټینگار کړی چې د سولې په تړاو به خپلو بحثونو ته دوام ورکوي، ترڅو له یوې سیاسي لارې روانو جگړو او تاوتریخوالي ته د پای ټکی کېښودل شي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ !
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۴۰۰ د غبرگولي نهمه | د ۲۰۲۱ د مي ۳۰مه |۷۲۳مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۹ | ٤۰ | ٤۰ | ٤۲ | ۳۵ |
| ۱۷ | ۲۰ | ۲۳ | ۲۵ | ۲٦ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۱ | لمر ختل ۰٤:٤۳ | ماسپښين ۱۱:۵۱ | مازیگر ۰٤:۵۱ | ماښام ۰٦:۵۹ | ماخوستن ۰۸:۳۵

## نړۍ




د کرونا درېيمه او وژونکې څپه؛
په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له درې میلیونه او ۵۴۰زره زره کسانو واوښت ۳

## امریکا په کلنۍ بوديجې کې د عراق او سوريې لپاره خپلې مرستې د پام وړ کمې کړي

د امریکا متحده ایالتونو د ۲۰۲۲ز کال په کلنۍ بودیجه کې د عراق او سوريې لپاره د پخوا په پرتله مرستې کمې کړې دي. د امریکا په دفاعي وړاندیز شوې بودیجه کې چې ۷۱۵ میلیادر ډالر ده، د عراق او سوريې لپاره یکې یوازې ۵۲۲ میلیونه ډالره په پام کې نیول شوي دي.

د دغه هېواد دفاع وزارت وايي چې په دغو پیسو به عراقي او د سوريې ډیموکراتیک او هلته د امریکا نور ملگري ځواکونه روزل کېږي او تجهیز کېږي. د امریکا متحدو ایالتونو تېر مالي کال عراق او سوريې ته ۷۰۰ میلیونه ډالر ورکړي وو چې په پوځي چارو یې ولگوي. په نوي وړاندیز شوې بودیجې کې عراقي ځواکونو ته ۳۲۲ میلیونه ډالر او د سوريې ډیموکراتیک او د امریکا نورو ملاتړو ځواکونو ته ۱۷۷میلیونه ډالر ځانگړي شوي دي. دا بودیجه کانگرس ته استول کېږي چې تایید، رد او یا تعدیل شي. امریکا اوسمهال په عراق کې ۲۵۰۰ او په سوریه کې ۹۰۰ سرتېري لري.

## ستولتنبرگ: بېلاروس د روسيې په ملاتړ پاروونکي اقدامات کوي



د ناټو عمومي منشي ينس ستولټنبرگ وايي، د بېلاروس چارواکو ښايي د خپلې متحدې، روسيې په همږغۍ د ایرلنډ د هوايي شرکت راين اير الوتکه اجباري ناستې ته مجبوره کړې ده. نوموړي زياته کړې چې بېلاروس د روسيې په مرسته دغه ډول پاروونکي اقدامات کوي.

هغه له سکای نیوز ټلوېزیوني شبکې سره په خبرو کې ویلي چې د روسيې او بېلاروس ترمنځ پر نږدې اړيکو خبر دی. ده زياته کړې، ډېره گرانه ده چې په منسک کې دې رژيم وکړای شي دغه کار له روسيې سره له همږغۍ پرته وکړي.

د بېلاروس اوسني ولسمشر الکساندر لوکاشينکو، د تېر کال د اگست مياشتې د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د ځان تر بريالي اعلانولو وروسته په پيل شوي لانجه کې تر ډېره پر روسيې اتکا کړې ده. دغه هېواد تېره يکشنبه د راين اير هوايي شرکت يوه الوتکه د منسک پر هوايي ډگر کښېناستو ته مجبوره کړه.

د بېلاروس چارواکو ويلي چې په الوتکه کې يې د بمب د موجوديت په اړه اطلاعات ترلاسه کړي وو. په الوتکه کې چې له یونان څخه لېتوانيا ته روانه وه، کوم بمب نه و، خو د لوکاشينکو يو منتقد ورځپاڼه ليکونکی رامان پراتاسوويچ چې په الوتکه کې و، ونيول شو.

د امریکا متحد ایالتونه او نور هېوادونه پر دې باور دي چې له دې پېښې د ناسمې ادعا په توگه د پراتاسوويچ د نیولو لپاره کار اخيستل شوی دی.

## امریکا کمک‌های مالی را به نیروهای امنیتی افغان به ۳،۳ میلیارد دالر افزایش می‌دهد



ایالات متحده امریکا کمک‌های مالی این کشورا به نیروهای امنیتی افغانستان افزایش می‌دهد. در طرح بودجه دفاعی سال آینده میلادی پنتاگون، سه اعشاریه سه میلیارد دالر برای پرداخت هزینه های نیروهای امنیتی افغانستان در نظر گرفته شده است.

درحالیکه حضور بیست ساله ایالات متحده درافغانستان درحال پایان یافتن است، اما واشنگتن برپشتیبانی مالی ازنیروهای امنیتی افغان تاکید می ورزد.

از میان هفت صدو پانزده میلیارد دالر بودجه دفاعی ایالات متحده در سال آینده میلادی، سه اعشاریه سه میلیارد دالر برای پشتیبانی از نیروهای امنیتی افغانستان در نظر گرفته شده است که یک افزایش سه صد میلیون دالر را نشان می دهد.


آن مک اندرو، مدیر ارشد مالی پنتاگون، گفت: «ما باور داریم با توجه به اینکه ما از افغانستان بیرون می شویم، باید از نیروهای امنیتی افغانستان پشتیبانی امنیتی بیشتری ارائه دهیم.»

افزون برهزینه های نیروهای امنیتی افغان، پنتاگون برای سال مالی ۲۰۲۲ هشت اعشاریه نه میلیارد دالر برای ماموریت اش در افغانستان درنظرگرفته است که این رقم به خاطر بیرون شدن نیروهای امریکایی تا چند ماه دیگر، چهارمیلیارد کمتر ازپولیست است که در سال ۲۰۲۱ اختصاص داده است.

در همین حال، جوبایدن رئیس جمهور ایالات متحده تاکید می ورزد که هرگاه شبکه القاعده باردیگر ازافغانستان حمله ها را بر امریکا طرح ریزی کند، واشنگتن دربرابر آن اقدام خواهد کرد.


## ژوند

## د شفتالو روغتیايي گټې



د شفتالو په اړه ویل کېږي چې د لومړي ځل لپاره له نن څخه اته زره کاله وړاندې په چین کې وکرل شول. دغه مېوه د آلوبخارا، زردالو، الوبالو او بادامو له ډلې گڼل کېږي چې په منځ کې سخت زړی لري. شفتالو ډېر غذايي توکي لري چې د بدن لپاره لاندې گټې لري: شفتالو د بې شمېره ويټامينونو، منرالونو او گټورو نباتي مرکبونو درلودونکي دي. ويل کېږي چې په يو برابر شفتالو کې ۵۸ کالوري، يو گرام پروټين، له يو گرام څخه لږ غوړ، ۱۴ گرامه کاربوهايډريټ، ۲ گرامه فايبر، ۱۷ سلنه ويټامين سي، ۱۰ سلنه ويټامين اې، ۸ سلنه پوتاشيم، ۵ سلنه ويټامين اې، ۵ سلنه ويټامين کې، ۵ سلنه کاپر او ۵ سلنه مگنيزيم وي. دغه راز فاسفورس، اوسپنه او ويټامين بي هم لري. شفتالو د فايبرو په درلودلو سره د هضم لپاره ډېر گټور وي، چې د قبض مخنيوی کوي او د کولمو د صحت مندو بکترياوو د ډېرېدو سبب کېږي او فيټي اسيد جوړوي.

## د سامسُنگ لومړنی مخ‌پاڼې لاندې کامره لرونکی موبایل



سامسُنگ کمپنۍ غواړي نږدې راتلونکې کې د گلکسي فولډ او گلکسي زي فلېپ نوې او پرمختللي بڼې معرفي کړي. د يادونې ده چې تېرکال دغه موبايلونه د کاروونکو له تود هرکلي سره مخ شول. که څه هم تر دې دمه څرگنده نه ده چې گلکسي زي فولډ۳ او گلکلسي زي فلېپ۳ به کله خرڅلاو ته وړاندې شي، خو بيا هم د دغو ځيرکو موبايلونو ډېر معلومات افشا شوي دي. افشا شويو معلوماتو کې ادعا شوې چې گلکسي زي فولډ۳ به له اېس-پېن څخه ملاتړ کوي او د زي فلېپ۳ شاتنۍ کامرې په عمودي بڼه ورکړل شوې ده. د باوري سرچينو د راپورونو پر بنسټ، گلکسي زي فولډ۳ به د مخ‌پاڼې لاندې سيلفي کامره لرونکی لومړنی قاتېدونکې مخ‌پاڼه لرونکی ځيرک موبايل وي. دا به د سامسُنگ کمپنۍ لومړنی ځيرک موبايل وي چې مخ‌پاڼې لاندې کامره لرونکې ټکنالوژۍ سره خرڅلاو ته وړاندې کېږي. دغه ځيرک موبايل به شاتنۍ برخه کې درې کامرې ولري. گلکسي زي فلېپ۳ شاتنۍ برخه کې هم يوه کوچنۍ مخ‌پاڼه لري، څو کاروونکي د ځيرک موبايل له پرانيستلو پرته وکولی شي خپل تر لاسه شوي پيغامونه او ځينې نور مهم معلومات ووينې.

کوچني او منځني سوداگریز پورونه

عزيزي بانک ستاسو د سوداگرۍ د پرمختگ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرايطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداگر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بيا اداينې قسطونه يې د يو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af 1515
عزیزی بانک
Azizi Bank